در نتیجه می توان گفت که درآمدهای مالیاتی نقش مهمی را در تأمین هزینه های جاری و خدمات عمومی و عمرانی ایفاء می نماید و اتکای دولت به این گونه درآمدها در واقع سلامت، عدالت و رونق اقتصادی را درپی خواهد داشت.▣

عبدالحفیظ شاهین

منابع:

1. Mof.gov.af/ نقش جمع آوری مالیات در افزایش عواید دولت
2. https.sputniknews.com/ پروسهٔ جمع آوری مالیات در افغانستان / تاریخ نشر ۱۰ / ۶ / ۱۳۹۵
3. / افزایش مالیات برای بلند بردن عواید داخلی سال آینده https://darivoa.com

# د افغانستان بانک عملیاتي کړنو ته ځغلنده کتنه

## د افغانستان بانک، د سوداګریزو بانکونو له استازو سره غونډه وکړه





کابل، ۱۳۹۷کال، د وری ۱۹ مه – د افغانستان بانک مشرتابه پلاوي د دولتي او خصوصي سوداګریزو بانکونو له استازو سره خبرې اترې وکړې او د مالي سیستم د پرمختګ لپاره په مالي معاملاتو کې په روڼوالي ټینګار وکړ.

د دې غونډې په ترڅ کې د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشیر د سوداګریزو بانکونو استازو ته د اړینو لارښوونو ترڅنګ وویل چې هر څومره چې په مالي معاملاتو کې روڼوالی په پام کې ونیول شي په هماغه اندازه د مالي نظام پرمختګ لپاره لاره هواریږي.

ښاغلي نوشیر زیاته کړه چې ټول بانکونه باید د مالی قوانینو له معیارونو سره سم د مالي معاملاتو په څانګړي توګه بهر ته د لیږدونکو پیسو په اړه بشپړ معلومات او راپورونه له د افغانستان بانک سره شریک کړي. ▣

## تأکید د افغانستان بانک روی بهبود روند گزارش دهی معاملات مالی مشکوک

کابل، ۱۴ حمل ۱۳۹۷- مرکز تحلیل معاملات و راپورهای مالی د افغانستان بانک، ورکشاپ آموزشی را در مورد جمعآوری گزارش های مالی مشکوک برای شرکت های بیمهٔ کشور راه اندازی نمود.

هدف از راه اندازی این ورکشاپ، تطبیق جمعآوری معلومات مشکوک به هدف پول شویی و تمویل تروریزم بیان شده است.

بر اساس قوانین نافذه افغانستان، شرکت های بیمه مکلف اند تا در مورد معاملات مشکوک به مرکز تحلیل معاملات و راپور های مالی د افغانستان بانک گزارش دهند.

محترم نثار احمد یوسفزی آمر مرکز تحلیل معاملات و راپورهای مالی د افغانستان بانک در جریان این برنامه آموزشی گفت که تلاش می کند تا در روند گزارش‌دهی معاملات مشکوک سهولت ایجاد کند تا سیستم مالی افغانستان از مشکلات و چالش ها رهایی یافته و راه برای یک سیستم مالی عصری در کشور هموار گردد.

درعین حال، محترم موسی کاموی رئیس ریاست بیمه وزارت محترم مالیه جمهوری اسلامی افغانستان از هماهنگی بهتر این شرکت ها اطمینان داده افزود که این همکاری و هماهنگی ها بیشتر و مستحکم تر خواهد گردید.

مرکز تحلیل معاملات و راپور های مالی د افغانستان بانک متعهد است تا جلو معاملات نادرست آنعده اشخاص را بگیرد که می خواهند از راه های نامشروع پول های سیاه را به پول های سفید تبدیل نمایند.

قابل ذکر است که این برنامه آموزشی به همکاری تخنیکی د افغانستان بانک و با اشتراک کارمندان ریاست بیمه وزارت محترم مالیه و نماینده گان شرکت های مختلف بیمه در تعمیر ریاست بیمه وزارت مالیه راه اندازی شده بود. ▣

## د افغانستان بانک د کارکوونکو په ګمارنه کې روڼوالي ته ارزښت ورکوي

کابل، د ۱۳۹۷ کال، د وری ۷ مه - د افغانستان بانک د مالي خطرونو لوی آمریت د خالي پوستونو د ډکولو په موخه له ۲۰۵ تنه ګډون کوونکو څخه چې د افغانستان بانک داخلي کارمندان او باندني نوماندان ول، آزموینه واخیستله.

د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشیر د ګمارنې د آزموینې له پروګرام څخه د لیدنې پرمهال د ګمارنې په پروسه کې په روڼوالي ټینګار وکړ او زیاته یې کړه چې د افغانستان بانک هڅه کوي چې د ګمارنې پروسه ډېره رڼه ترسره شي چې آن د آزموینې ګډون والو هم له دې پروسې څخه خوښي څرګنده کړه.

د افغانستان بانک مشرتابه پلاوی هڅه کوي چې د وړ او ځواکمن مدیریت د رامنځته کولو په موخه ضوابطو ته لومړیتوب ورکړي او د تشکیلاتي جوړښت د ښه تنظیم لپاره، استعداد لرونکي او په لوړو زده کړو سمبال کسان په دندو وګماري.

د یادونې وړه ده، چې د دې آزموینې اعلان د افغانستان بانک د ټولنیزو شبکو او رسمي سایټ له لارې ۱۵ ورځې مخکې ترسره شوی وو چې اوسمهال یې تحریري آزموینه واخیستل شوه او په هغه صورت کې چې دا کسان په دې آزموینه کې بریالي شي بیا دویم ځل د مرکې لپاره راغوښتل کیږي.▣

## د افغانستان بانک، برنامه آموزشی را در زون شمال به راه انداخت

به تداوم برنامه های آگاهی دهی و آموزشی جهت جمع آوری عواید گمرکات از طریق سیستم تادیات بین النمایندگی بانکهای تجارتی (ICPSS)به حساب دولت، د افغانستان بانک، این برنامه را به تاریخ ۱۳۹۶/۱۲/۲۳ در زون شمال د افغانستان بانک راه اندازی نمود.

محترم عطاخان اورتاق آمر زون شمال د افغانستان بانک ضمن صحبت افتتاحیه، تدویر این برنامه را مهم خوانده و در مورد اهمیت تادیات الکترونیکی و اهداف د افغانستان بانک برای جمع آوری عواید گمرکات از طریق سیستم تادیات بین البانکی بانکهای تجارتی معلومات ارائه نمود.

در سلسله گفتگو ها مدیر انتقالات آمریت عمومی عملیات بانکی در مورد مبدا قانونی و وضعیت فعلی سیستم تادیات افغانستان صحبت نموده افزود که این برنامه می تواند سهولت های مزید را برای تجارت فراهم کند.

متعاقباً نماینده آمریت محترم تادیات در مورد ساحات که تحت پوشش سیستم (ICPSS)د افغانستان بانک قرار گرفته، معلومات داده و گفت که تمام گمرکات افغانستان فعلاً تحت پوشش سیستم (ICPSS)د افغانستان بانک قرار گرفته و تجار محترم می توانند در هر بانک تجارتی که حساب بانکی داشته باشند، دیون گمرکی را به حسابات دولتی انتقال دهند.

در پایان این برنامه نماینده محترم ریاست گمرکات وزارت محترم مالیه در مورد سیستم اسیکودا، اهداف و پلان های ریاست عمومی گمرکات به اشتراک کننده گان توضیحات لازم ارائه نمود.

قابل یاد آوری است که در این برنامه برعلاوه مسئولین د افغانستان بانک در زون شمال، نماینده گان بانکهای تجارتی، گمرکات، مستوفیت، خبرنگاران، تجار و کمیشن کاران اشتراک ورزیده بودند.▣

# پولي سیاست او د هغه اغیزې په اقتصاد کې

هر هېواد د خپلې اقتصادي پرمختیا او د هغه ثبات لپاره له بېلابېلو اقتصادي سیاستونو څخه کار اخلي، چې دا سیاستونه د هېواد د ملي ګټو په نظر کې نیولو سره جوړېږي. ښایي په هېوادونو کې مختلف اقتصادي سیاستونه شتون ولري، خو په مجموع کې د هر اقتصادي سیاست موخه د بشري ژوند ښېګڼه او همدا شان د ټولنې د خلکو د ژوند د کچې ښه والی دی.

اقتصادي سیاست په اصل کې د یو هېواد د مختلفو فرعي اقتصادي سیاستونو مجموعه ده، لکه د سوداګرۍ سیاست، مالي سیاست، پولي سیاست، د بهرنیو اسعارو د تبادلې اړوند سیاست او ګڼ شمېر نور سیاستونه هم په یاده کټګورۍ کې راتلای شي. که څه هم ټول فرعي اقتصادي سیاستونه په خپل ځای اهمیت لري، خو په ټولیزه توګه په نړۍ کې د اقتصادي سیاست د نوم اوریدو سره د یو عام انسان ذهن ته پولی سیاست او مالي سیاست راځي چې پولي سیاست د هر هېواد مرکزي بانک پورې اړه لري. دواړه سیاستونه د موخو د لاسته راوړلو د ښې هم غږۍ په خاطر بیا په خپل منځ کې ښایی کمیټه هم ولري، که څه هم دواړه اقتصادي سیاستونه د اهدافو د ترلاسه کولو لپاره هم غږۍ سره کار کوي، خو اوسمهال په لاندې کرښو کې د پولی سیاست په اړه بحث کوو.

**پولي سیاست**

پولي سیاست له هغه اقتصادي سیاست څخه عبارت دی چې اقتصاد د پیسو د عرضې او موجوده کریډیټ کې د تغییراتو په واسطه اغیزمن کېږي، یعنې د یو هېواد مرکزي بانک غواړي د هېواد په ملي اقتصاد باندې اغیزه واچوي یا هم د پیسو په عرضه کې زیاتوالی یا کموالی راولي، تر څو د اهدافو د تعقیب په موخه یاد سیاست اغیزمن واقع شي. دا سیاست د هر هېواد مرکزي بانک لخوا جوړېږي. زمونږ د هېواد مرکزي بانک، د افغانستان د اساسی قانون د ۱۲ مادې سره سم د افغانستان بانک دی چې استقلالیت یې هم په کې یادونه شوې ده.

پولی سیاست ځانته موخې لري چې د عمومي اقتصادي سیاست د اهدافو سره کاملاً هم غږي لري او د دې سیاست موخې عبارت دي له:



لیکوال: تاج محمد تمکین
د افغانستان بانک د ختیځ زون اقتصادپوه

۱- د بیو ثبات (Price stability)

د بیو ثبات، د پولي سیاست لومړنی او اساسي موخه دی، ځکه چې د بیو نوسانات د مستهلکینو، سوداګرو او حکومت په تصمیم نیولو کې خنډ او ستونزې رامنځته کوي.

۲- د استخدام لوړه سطحه

دا موخه د دې لاملونو له نظره ډېر با ارزښته دی:

- د بیکارۍ د لوړې سطحې ( د کورنیو د مالي ناراضیو، پخپل ځان باندې اعتماد له منځه تلل او د جرم د زیاتوالي باعث ګرځي) او همدا شان په ډېرو هېوادونو کې یوازې

»

کارګران نه، بلکې منابع هم لا مکمل په کار ندي اچول شوي، نو ځکه د استخدام د سیاست لپاره کار کول اړین او مهم دي. ( د بې روزګارۍ طبیعي سلنه (Natural rate of unemployment) د ۴.۵ څخه نیولي تر ٦ سلنې پورې انټروال محتواء کوي.

۳- اقتصادي وده (Economic growth)

د باثباته اقتصادي ودې موخه د استخدام د لوړې سطحې موخې سره ډېر نږدې تړاو لري، ځکه سوداګر هغه وخت ډېر پانګه اچونه کوي چې د بیکارۍ کچه ټیټه وي او د دې ترڅنګ په هېواد کې پولي ثبات شتون ولري.

٤- د سود نرخ ثبات (Interest – rate Stability)

د بیو د ثبات په شان د سود د نرخ ثبات هم ډېر مهم دی، ځکه چې د سود نرخ نوسانات په اقتصاد کې شک او تردید رامنځته کوي او په راتلونکي پلان جوړونه کې ستونزې زیږوي، خو که چیرې پانګوال او پانګه اچونکي تر ډېره حده متیقن شي چې د سود سلنه تیرې تاریخچې ته په کتو په یوه هېواد کې باثباته پاتې شوې وي، بیا پانګه وال په ښه زړه پانګه اچونه کوي.

٥- د مالي مارکیټونو ثبات (Stability in Financial Markets)

مالي کړکیچونه د مالي بازارونو له لارې کابو کېدای شي، نو ځکه د پولي سیاست یو موخه دا هم دی چې مالي بازارونو کې ثبات رامنځته شي او د دې بازارونو کارکوونکي د خپل کاروبار او اقتصاد څخه ډاډمن وي.

٦- د اسعارو په بازارونو کې ثبات (Stability In Foreign Exchange Markets)

بهرني اسعار د یوه هېواد د پیسو ارزښت اغیزمن کوي او د نوموړي هېواد په اقتصاد باندې تاثیر غورځوي، نو په همدې بنسټ دا موخه هم د پولي سیاست لپاره مهم دی.

د دغو موخو د ترلاسه کولو لپاره پولي سیاست کار کوي او د پولي سیاست د ښه تطبیق په پایله کې یاد اهداف په پوره ګټورتوب سره په لاس راځي. که مونږ د خپل هېواد پولي سیاست ته ځغلنده نظر وکړو، نو ګورو چې په تېرو پنځلس کلونو کې په پوره مانا د افغانستان بانک د پولي سیاست پایله ډېره مثبته او د پام وړ ده.

**پولي سیاست په ټوله کې دوه ډولونه لري.**

۱- انبساطي پولي سیاست

۲- انقباضي پولي سیاست

انبساطي (Expansionary) پولي سیاست د پیسو د عرضې د زیاتوالي او د ټولیزې تقاضا د سطحې د لوړوالي لپاره وضع کېږي. په یاد سیاست کې هڅه کېږي چې اقتصادي فعالیتونه پراخ وي، نو په همدې بنسټ هڅه کېږي چې په پورونو د سود نرخ سلنه کمه او همدا شان په مجموع کې شرایط داسې چمتو شي چې د پیسو عرضه په جریان کې زیاته شي.

انقباضي (Cotractionary) پولي سیاست د پیسو د عرضې د کموالي او مجموعي تقاضا د سطحې د ټیټوالي لپاره وضع کېږي. عموماً شرایط سختیږي، ترڅو خلک پور اخیستلو ته په آسانۍ سره آماده نشي، بلکې زاړه پورونه هم بېرته بانکونو ته ورکړي، په دې سیاست کې کوښښ کېږي چې

شرایط سخت او د پیسو عرضه په جریان کې کمه وساتل شي.

پولي سیاست په ټولیزه توګه دوه ډوله ( کمي Quantitative) او کیفي وسایل (Qualitative tools) لري.

1. کمي وسایل په څلورو نورو ډولونو باندې ویشل شوي ده
2. د آزاد بازار فعالیتونه (Open Market Operations)
3. د تنزیل نرخ (Discount rate)
4. اجباري ذخایر (Required reserve)
5. د اعتبار سهمبندي (Credit rationing )

د آزاد بازار فعالیتونه (Open Market Operations)

د پانګې په بازار کې د یو هېواد د مرکزي بانک په واسطه د حکومتي بیه لرونکو پاڼو اخیستل او خرڅولو څخه دي. دا وسیله د ذخایرو اندازه او د پیسو قاعده (Monetary Base) د متاثره کولو لپاره استعمالیږي. دا وسیله نورو وسایلو په پرتله ډېر سیالیت لري او د ډېرو هېوادونو د مرکزي بانکونو په واسطه د ورځني (day to day) عملیاتو لپاره استعمالوي.

د تنزیل نرخ (Discount rate)

د تنزیل نرخ د سود هغه نرخ دی چې مرکزي بانک د خپل پورونو په بدل کې چې سوداګریزو بانکونو ته یې په پور ورکړي، ترلاسه کوي. یعنې د سوداګریزو بانکونو څخه د پور یا قرض په بدل کې مرکزي بانک سود اخلي. دا وسیله د پیسو د قاعدې او عرضې متاثره کولو لپاره استعمالیږي او همداشان مرکزي بانک په عمومي توګه د دې په واسطه نور سوداګریز بانکونه کنټرولوي او هغوی د افلاس او مالي بحران څخه ژغوري.

اجباري ذخایر(Required reserve)

دا د امانتو هغه سلنه ده چې سوداګریز بانکونه یې باید جبراً د ذخیرې په شکل کېږدي، مرکزي بانک د پیسو د ضریب د متاثره کولو لپاره دا وسیله استعمالوي. د اجباري ذخیرې فیصدي نظر هر هېواد ته فرق کوي، خو عموماً د ۵ سلنه څخه نیول تر ۱۰ سلنه پورې وي.

د اعتبار سهمبندي (Credit rationing )

مرکزي بانک د هر سوداګریز بانک اعتبار یا کریډیټ سهمبندي کوي او هغه اعظمي مقدار د مبلغ تعینوي چې هر سوداګریز بانک د تبادلې د بېلونو په بیا تنزیلولو سره ویستلای شي او دا وسیله مرکزي بانک د مالي بحرانونو په وخت کې استعمالوي.

همدا شان پولي سیاست کیفي وسایل هم لري چې هغه د مقداري یا کمي وسایلو څخه مختلف دي، لکه مستقیم عمل او اخلاقي هڅونه.

مستقیم عمل څخه د یو هېواد مرکزي بانک هغه وخت استفاده کوي کله چې وګوري خصوصي بانکونه د پولي سیاست مطابق کار نکوي، نو مرکزي بانک کولای شي چې هغوی جریمه کړي او همدا شان اخلاقي هڅونه چې د جلساتو او ناستو له لارې څخه خصوصي بانکونه تشویق شي چې د قوانینو مطابق عمل وکړي او د مرکزي بانک سره لاس یو کړي.▣

# اقتصاد چین در سال ۲۰۱۷ قناعت بخش بوده است



محبوب الله شریفی
مسئول خطرات آمریت عمومی عملیات بازار

مدیر خطرات آمریت عمومی عملیات بازار

چین پس از ایالات متحده امریکا، دومین اقتصاد بزرگ جهان بشمار میرود. براساس آخرین گزارش منتشر شده، دولت چین قصد دارد تا در سال ۲۰۱۸ میلادی محدودیت‌های شدیدی را بر فعالیت های اقتصادی خطرزا اعمال کند. فعالیت‌های با خطر بلند اقتصادی، تهدیدی برای مؤسسات تجارتی عمده چین محسوب می‌شوند. طبق آخرین آمار تولید ناخالص داخلی این کشور طی سه ماه نخست ۲۰۱۸، ۶.۵ در صد بوده که در مقایسه با ۶.۹ درصد سال ۲۰۱۷ در حال کاهش می باشد، این در حالیست که شاخص های انفلاسیون و بیکاری جهت روبه رشد داشته است.




مقایسه تولید ناخالص داخلی، نرخ انفلاسیون و نرخ بیکاری چین طی سال های ۲۰۱۷ و ۲۰۱۸

اما با این همه، به طورکُلی، چشم انداز اقتصادی چین در سال ۲۰۱۷ قناعت بخش بوده است، زیرا طی این مدت، در بازار کار این کشور بیشتر از ۱۱ میلیون شغل ایجاد گردیده، رشد تولید ناخالص داخلی این کشور به ۸۲.۷ تریلیون یوان رسیده و طبق پیش بینی های انجام شده، این رشد تا سال ۲۰۲۲ به ۱۰۰ تریلیون یوان خواهد رسید.

نرخ رشد تولید ناخالص داخلی چین از جنوری ۲۰۱۵ الی جنوری ۲۰۱۸




اقتصاد چین عمدتاً بر سرمایه‌گذاری مبتنی بر قرض و صادرات استوار است؛ هر چند این کشور در حال حاضر توجه عمدهٔ خود را بر پایه رشد اقتصادی بطی، ولی پایدارتر بنا نهاده است، اما تصمیم دونالد ترامپ، رئیس‌جمهور امریکا مبنی بر وضع تعرفه های بلند وارداتی به فولاد و المونیم چین عاری از لطمه اقتصادی به این کشور نخواهد بود.

ایالات متحده امریکا بزرگترین واردکننده فولاد و المونیم در جهان است و میزان واردات این کشور، چهار برابر صادرات این اقلام به خارج است. ژانگ یسوی، سخنگوی کنگره ملی خلق چین، در واکنش به اعلامیه جنجالی دونالد ترامپ، رئیس جمهور امریکا گفته است که با توجه به حجم ۵۸۰ میلیارد دالری سال گذشته مبادلات تجاری میان امریکا و چین اصطکاک های وجود خواهد داشت. چین میگوید که به دنبال جنگ تجاری با امریکا نیست، اما در صورتی که اقتصادش لطمه ببیند، آرام نخواهد نشست.

قابل ذکر است که چین بودجه نظامی سال ۲۰۱۸ میلادی را مبلغ ۱۷۵ میلیارد دالر اعلام کرد که در مقایسه با سال میلادی گذشته، افزایش ۸ درصدی را نشان میدهد. این کشور که واردکننده عمده مواد خام، از جمله نفت، از خارج است، نقش مهمی در تولید کالاهای مورد نیاز کشورهای دیگر ایفاء می کند.▣

منابع:

1. Bloomberg
2. https://tradingeconomics.com/china/gdp-growth

# اقتصادي خبرونه

**ایران له افغانستان سره سوداګرۍ کې د پاکستان ځای نیولی**

ایران، د پاکستان پر ځای، د افغانستان په لومړي لمبر سوداګریز شریک بدل شوی دی. د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو د خونو مرستیال خانجان الکوزي له رسنیو سره په مرکه کې وویل چې ایران تېر لمریز کال افغانستان ته شاوخوا ۱.۹۸ میلیارد ډالرو په ارزښت صادرات درلودل، خو افغانستان ایران ته یوازې ۳۱.۴ میلیونه ډالر واردات کړي دي.

له ایران سره د تجارت د زیاتېدو یو علت دا هم دی چې افغانستان اوس د پاکستان پر ځای له ځینو نورو هېوادونو سره سوداګریزې اړیکې او ترانزیت زیات کړي دي.

ښاغلي الکوزي وویل چې افغانستان په دې موده کې بیا له پاکستان سره ۱.۳ میلیارد ډالر او له چین سره شاوخوا یو میلیارد ډالر سوداګري کړې ده.

افغانستان وړم کال (۲۰۱۶) له پاکستان سره ۲.۲ میلیارد ډالر صادرات او واردات درلودل چې اوس سم نیمایي کم شوي دي. له نړۍ سره د افغانستان د تېر لمریز کال د ټولو صادراتو او وارداتو اندازه د ښاغلي الکوزي په خبره اووه میلیارد ډالرو ته رسیږي، چې ډېر یې له همدغو دریو ګاونډیو ایران، پاکستان او چین سره وو.

افغانستان نړۍ ته تر ډېره تازه میوه، وچه میوه، قالینې او سبزیجات صادروي، خو له نړۍ نه بیا خوراکي توکي، ساختماني مواد، ټوکر، موټر، طبي درمل، الکترونیکي وسایل، د فابریکو لپاره خام مواد او داسې نور توکي واردوي.

د چابهار بندر په پرانیستلو سره افغانستان له هند او ایران سره تجارتي روابط لا ښه او آسانه شي، افغان چارواکي وایي اوس افغانستان یوازې پر پاکستان تکیه نکوي، بلکې د نړۍ نورو هېوادونو ته هم د تجارت لارې خلاصې کړې دي.

**تولید برق در توربین اول بند برق نغلو عملاً آغاز شد**

تولید برق در توربین اول بند برق نغلو عملاً آغاز شد. وحیدالله توحیدی سخنگوی شـرکت بـرشـنا گـفـت که این توربین ظرفیت تولید ۲۵ میگاوات برق را دارد، اما در حال حاضر بنا بر کمبود آب صرف می تواند ۱۵ میگاوات برق تولید کند.

آقای توحیدی افزود: "یونت اول بند برق نغلو ظرفیت تولید ۲۵ میگاوات برق را دارد که از سوی کمپنی روسی به کمک مالی بانک جهانی بازسازی و عملآً به بهره برداری سپرده شد." این توربین بند برق نغلو به هزینه ۶.۶ میلیون دالر بازسازی شده است. این بند دارای سه توربین است و در مجموع ظرفیت تولید ۷۵ میگاوات برق را دارد که پس از هشت سال توقف توربین اول بند برق نغلو به هزینه بیش از شش میلیون دالر بازسازی و به بهره برداری سپرده شد.

ظرفیت تولیدی این توربین ۲۵ میگاوات است. برای خودکفایی و تولید داخلی تبدیل کردن برق وارداتی به برق ترانزیتی ازطرح های جدید آنان است. همزمان با این نماینده مردم ننگرهار در شورای ملی از نبود برق کافی و دوامدار در ولایت های شرقی نیز نگرانی می کنند.

**نړیوال بانک له افغانستان سره د شاوخوا ۷۰۰ میلیونه ډالرو ورپیا مرستې اعلان کړی**

دا پیسې د دریو کلونو په موده کې د روغتیا، تکنالوژۍ او د دولتي بانکونو د پرمختیا لپاره د دولتي بودجې له لارې لګول کیږي. حکومتي چارواکو ویلي چې د مرستو په لګولو کې د پوره روڼتیا لپاره به روغتیایي پروژې د دریم لوري لخوا و ارزول شي.

افغانستان سره د ۶۹۱ میلیونه ډالره ورپیا مرستې سند د

»

وری په ۲۳ نیټه د مالیې وزارت او د نړیوال بانک استازو ترمنځ لاسلیک شو.

د دې مرستې ۶۰۰ میلیونه ډالره د روغتیایي خدمتونو پراختیا ته ځانګړې شوې. د روغتیا لپاره په دوهمه لویه پیمانه مرسته د داسې یوه هېواد لپاره چې لږ تر لږه ۴۰ سلنه وګړي یې روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی نه لري، ښه زیری بلل کېږي.

د عامې روغتیا وزارت د شمېرو له مخې، افغانستان کې شاوخوا ۶۰ سلنه خلک روغتیایي مرکز ته د رسېدو لپاره اړ دي یو ساعت پیاده مزل وکړي. د افغانستان د مالیې وزیر اکلیل حکیمي وویل؛ دا مرسته په حکومت کې د اصلاحاتو لپاره د نړیوالې ټولنې د ژمنتیا ښکارندویه ده. د نړیوال بانک نوې مرسته به د افغانستان د حکومتي بودجې له لارې د مالیې او روغتیا وزارتونو لخوا لګول کېږي.

نړیوال بانک، د افغانستان له لویو تمویلوونکو بنسټونو دی چې په تېره یوه نیمه لسیزه کې یې شاوخوا څلور میلیارده ډالره دې هېواد سره مرسته کړې.

## صادرات هرات در سال ۱۳۹۶، ۲۱ درصد افزایش یافته است

اتاق تجارت و صنایع ولایت هرات می گوید، صادرات محصولات مختلف این ولایت در سال ۱۳۹۶ در مقایسه با سال ۱۳۹۵، ۲۱ درصد افزایش یافته است. سعد خطیبی رئیس این اتاق به رادیو گفت، تاجران و سرمایه گذاران در سال ۱۳۹۶، ۶۸ میلیون دالر صادرات داشته‌اند.

به گفته آنها، بیشتر تاجران و سرمایه گذاران ولایت هرات محصولات مانند سنگ مرمر، محصولات زراعتی، لبنیات را به کشورهای مانند ترکیه، چین و ایران صادر کرده است.

## افغانستان صادراتی مالونه د ازبکستان او قرغزستان له لارې چین ته صادرېږي

ازبکستانی رسنیو راپور ورکړی چې د تاشکند او کابل چارواکو چین ته د ازبکستان او قرغزستان له لارې د افغانستان صادراتی توکو په اړه هوکړه کړې ده. د ازبکستاني رسنیو راپور له مخې، دغه هوکړه د ازبکستان پلازمېنه تاشکند ته د افغانستان د ټرانسپورت وزیر محمد حمید طهماسی د سفر او د دواړو هېوادونو د خبرو پرمهال ترلاسه شوې ده.

د دې هوکړې له مخې، چین ته د افغانستان صادراتي توکو د لېږد او رالېږد په موخه د تاشکند – اندیجان – اوش – ایرکشتام – کاشګار څخه ګټه اخیستل کېږي او د توکو د لېږدولو وسایل په قرغزستان کې د ایرکشتان له لارې چې د سیند له کچې څخه 3.5 زره متره لوړ دی او له فرقانې څخه چین ته د واټ تر ټولو لنډ بهیر ګڼل کېږي، دغه هېواد ته رسوي.▣

---

سرچينې:

د امریکا غږ راډیو، وری ۲۰، ۱۳۹۷

رادیو آزادی، حمل ۲۴, ۱۳۹۷

بی بی سي راډیو، ۱۰ اپریل ۲۰۱۸ – ۲۱ وری ۱۳۹۷

رادیو آزادی، حمل ۲۳, ۱۳۹۷

پښتو نیوز، ۲۱ حمل ۱۳۹۷

# د افغانستان اقتصادي پیاوړتیا په کرنیز سکتور پورې تړلې

د افغانستان اقتصادي پیاوړتیا د نورو سکتورونو ترڅنګ په کرنیز اقتصاد پورې تړلې، نو ځکه په‌کار ده چې د کرنې او کروندګرو لپاره لازمې اسانتیاوې برابرې شي، څو په افغانستان کې د کرنیزو محصولاتو په زیاتیدا او د غله جاتو له پلوه ځان بساینه رامنځته شي.

د افغانستان دولت هوډ لري چې په کرنیزو ځمکو کې له ودانیزو چارو مخنیوی وکړي، د همدې لپاره باید په کرنیزو ځمکو کې د کورونو او ساختمانونو له جوړولو په مخنیوي کې جدي ګامونه پورته شي او په دې برخه کې یې افغانستان دولت د کرنې او مالدارۍ وزارت ته جدي لارښوونه کړې چې په کرنیزو ځمکو کې د هر ډول ودانیزو چارو مخه ونیسي.

د افغانستان د کرنې وزارت په اند؛ روان کال د اصلاح شویو تخمونو او سرې د ویشلو ترڅنګ د هغو کرنیزو پروژو د کارونو له څرنګوالي څخه کتنه کیږي، چې د افغانستان دولت د کرنیزې برخې د پیاوړتیا لپاره په لاره اچولې چې ځینې بشپړې او ځینې نورې یې تر کار لاندې دي.

اوسمهال د افغانستان د کرنې سکتور د پیاوړتیا لپاره ډېرې پروژې په لاره اچول شوي، د افغانستان د بهیدونکو اوبو مدیریت لپاره هم پلانونه جوړ شوي چې د پلي کیدو لپاره یې دولتي اړوندې اداري لاس پکار دي، څو په راتلونکې کې د کرنیز سکتور د غښتلتیا لپاره لارې چارې هوارې شي.

د یادونې وړ ده چې په دې برخه کې د افغانستان ولسمشر جلالتماب محمد اشرف غنی جدي دی او دا د دې شوونه کوي چې د ورته بندونو په جوړیدو سره زرګونه جریبه ځمکه خړوب شي، خو د هېواد کرنیز مساعد اقلیم ته په کتو دا هر څه کم دي او باید پدې برخه کې ډېر کار وشي.

پر کرنه پانګونه د افغانستان پر ځان بسیا کېدو لپاره غوره فرصت دی، د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې سازمان د معلوماتو له مخې په افغانستان کې د کرنې په برخه کې پانګونه، د چټک اقتصاد او کارموندنې په موخه د یوه غوره او چټک اقتصادي پرمختګ شوونه کوي.

په افغانستان کې د کرنې پراختیا او په دې برخه کې د پانګې اچونې لپاره ډېر فرصتونه شته، خو په دې برخې کې د لړې پانګونې او د نړیوالو له خوا د لږ پاملرنې له امله ډېر اقتصادي فرصتونه له لاسه وتلي او لاهم روان دي.

د افغانستان دولت اوس د روانو اوبو او سیندونو لپاره د بندونو جوړولو تابیا نیولې چې له دې سره به د هېواد په میلیونونو هکتاره شاړه ځمکه په اوبو خړوب او د افغانستان کرنېز محصولات به ډېروالی وموموي. همدا ډول باید په کرنیزو تخنیکي وسایلو پانګونه وشي، له دې سره به د افغانستان د کرنې سکتور له امله نړیوالو هېوادونو ته اړتیا کمه شي.

افغان دولت د اوبو په سم مدیریت سره کولی شي د کرنې سکتور پیاوړی کړي او افغانستان په یو کرنیز هېواد بدل کړي. افغانستان ۵۷ میلیارده متر مکعب بهېدونکې اوبه او ۱۸ میلیارده متر مکعب تر ځمکې لاندې اوبه لري، خو یواځې ۳۰ سلنه اوبه یې کارول
»

کېږي او بهېدونکې اوبه يې اوسمهال د پاکستان او ايران هېوادونو له خوا تر ډېره ګټې اخيستل کېږي.

په هېواد کې د مناسب اقليم شتون، پراخې بهېدونکې اوبه او ۲۱ ميليونه هکتاره ځمکه د کرنې په برخه کې د ميلياردونو امريکايي ډالرو پانګونې ته لاره هواروي او ډېر ژر به افغانستان د نړيوالو هېوادونو سره په کرنيزه برخه کې سيالۍ ته وهڅوي او افغاني محصولاتو ته اړتيا به څو چنده شي.

که چېرې افغانستان دولت پر کرنه پانګونه زياته کړي، د کرنيزو محصولاتو کميت او کيفيت ته ځانګړې پاملرنه وکړي او يادو محصولاتو ته په ملي او نړيواله کچه د خرڅلاو بازار ومومي، ډېر ژر به افغانستان ځان بساينې ته ورسېږي.

د افغانستان د ملي اقتصاد د پياوړتيا لپاره کرنه او پر کرنه پانګونه بايد د حکومت له لومړيتوبونو څخه وي، د کرنې لپاره ټاکل شوې بودجه کې زياتوالی او همدارنګه په هېواد کې د کرنې سکتور ته د بهرنيو پانګوالو پاملرنې جلبولو کې بايد د پام وړ ګامونه پورته شي.

د افغانستان دولت بايد نړيوال سازمانونه وهڅوي چې د افغانستان محصولاتو ته بازار موندنې او کروندګرو د هڅونې په موخه بايد بېلابېل پروګرامونه په لاره واچوي، څو هم کروندګرو په ژوند کې بدلون راشي او افغان بزګر د نا مشروع کښت( ترياکو) پرځای هم مشروع کرنيز محصولات زيات او هم د افغانستان اقتصادي پرمختګ لپاره لارې چارې هوارې شي.

دغه راز د افغانستان د کرنې سکتور د پياوړتيا لپاره بله اړينه موضوع د هېواد په بېلا بېلو سيمو کې د سړو خونو جوړول دي او ډېری بزګران له بېلابېلو رسنيو سره مرکې کړي څرګندوي چې خصوصي کمپنيو له خوا د سړو خونو جوړيدل او د له دوی څخه د پيسو اخيستل ستونزې زيږوي. د بزګرانو د غوښتنو پراساس دولت دې دوی ته داسې سړې خونې جوړې کړي چې مصرف ونه لري، ځکه په اوسنيو شرايطو کې خپلو اولادونو ته د نفقې برابرولو په لټه کې دي او هغه هم له ډېرو ستونزو سره لاس او ګريوان دي.

د کرنې وزارت د معلوماتو له مخې، په تېرو کلونو کې د هېواد په کچه د پياز او کچالو د ساتنې څه باندې ۲۸۰۰ سړې خونې جوړې شوي چې په ټوليز ډول د څه باندې ۶۳ زره متريک ټنه پيازو او کچالو د ساتنې وړتيا لري او همداراز د مېوو او تازه سبزيجاتو په موخه يې هم په زرګونو سړې خونې جوړې کړي او دا چاره به ترهغه دوام ولري چې د افغانستان د ټولو بزګرانو اړتياوې بشپړې شي.

د يادونې وړ ده چې د خوړو او کرنې نړيوال سازمان هر کال د ۱۷ ميلياردو امريکايي ډالرو په ارزښت بېلابېل ډوله کرنيز محصولات او خدمات نړيوال بازار ته وړاندې کوي او په همدې توګه شرکتونو او کمپنيو ته فرصت برابروي، تر څو خپل کرنيز محصولات او نور خدمات نورو نړيوالو سازمانونو ته ور وپېژني، ځکه د افغانستان د مالي تمويل ستره سرچينه کرنيز سکتور دی چې بايد پرې کار وشي.▣

**حميدالله فيضي**

اخيستنې:

https://pa.azadiradio.com/a/29127234.html ،۷ د ورې ۱۳۹۷ کال،

https://areu.org.af/wp-content/uploads/2016/02

www.clovekvtisni.cz/media/publications/843/file/agriculture-practical-hand-book-pashto.pdf

# تشبثات کوچک و نقش آن در رشد اقتصاد کشور

راه اندازی تشبثات کوچک می‌تواند تجربهٔ پُر از هیجان و جالب باشد، اما قبل از کارآفرینی و شروع آن عواملی وجود دارند که باید آن‌ها را در نظر داشته باشیم. از جمله اینکه کار را بدون داشتن سرمایه اولیه راه‌اندازی می کنید یا برای شروع کار سرمایه‌ی لازم را در اختیار دارید؟ اینکه در چه حوزه ی ( غذا، طراحی نرم افزار و یا کدام کار خانگی) کسب و کار خود را می‌خواهید یا آغاز کنید؟ فرقی نمی کند که چه کاری و در کجای دنیا قرار است راه اندازی کنید، هر جا که باشید مسیر کُلی که به عنوان کارآفرین باید طی کنید، مشابه است. پس بهتر است به دنبال پاسخی برای این سوال کُلی بگردیم.

چگونه یک تشبث کوچک را راه‌اندازی کنیم؟

راه اندازی تشبثات باید اصولی باشد. اگر قصد راه اندازی کسب و کار را دارید، لطفاً همه جانبه فکر نمائید. کسب و کار کوچک باید معقولانه طرح‌ریزی شود تا مشکلات سد راه آن بمیان نیاید.

در امریکا حدود ۵.۲۲ میلیون کسب و کار مستقل در بخش زراعت وجود دارد که ۹۹ درصد آن کسب و کار کوچک ( Small Business) به حساب می‌آیند.

برای این که به صورت درست یک کار را طرح‌ریزی و آن را در مرحله اجراء قرار دهیم، نیاز است که مراحل و نکات ذیل را به صورت درست و دقیق عملی نمائیم.

در مرحله اول ذهن تان را برای آغاز بازی پیش رو و یا یک تشبث جدید آماده کنید. دلیل موفقیت چشم‌گیر کارآفرینانی چون بیل گیتس، اینست که ذهن شان را مثبت تربیت کرده اند. یکی از اولین کارهاییکه برای کارآفرینی باید انجام



غلام حسن زاهدی

دهید، ایجاد تفکر و ذهنیت کارآفرینانه است. به یاد داشته باشید که برای کسب و کارتان باید سرانجام روزی شغل فعلی را رها کنید. پس باید از نظر روحی و ذهنی آماده گی داشته باشید و برای چالش‌های پیش رو آماده شوید.

کارآفرینی که دیدگاه کارآفرینانه نداشته باشد، هرگز موفق نخواهد شد. باید مهارت‌هایی چون رهبری، مذاکره و برقرار کردن رابطه و شبکه‌سازی با دیگران را در خودتان ایجاد کنید.

شما همچنین باید برنامه‌هایی را برای اشتراک در سمینارهای مربوط به کسب و کار تدارک دیده تا برای

»

کارهای آینده مجهزتر و قوی‌تر باشید. تهیه یک طرح کسب و کار به شما توانایی فکر کردن به کُل فرآیند کسب و کار ( از شروع تا تولید و فروش کالا یا خدمات) را می دهد. لازم نیست طرح بالابلند و طولانی تهیه کنید؛ تنها موارد لازم را در نظر گرفته و از پرداختن به جزئیات بی مورد خودداری کنید.

در مرحله دوم طرح قویی برای راه اندازی تشبث یک نیاز مهم است. برای ادارهٔ موفق، احتیاج به یک طرح کسب و کار دقیق و قوی دارید. اگر قصد راه اندازی کسب و کار نوپایی را دارید، حتماً به آن احتیاج خواهید داشت. یک طرح کسب و کار خوب، مبلغ تقریبی که برای شروع آن ضرورت دارید، مبلغی که برای رشد کار خود نیاز خواهید داشت و مکانی که قرار است در آن کسب و کار برپا شود، را شامل می‌شود. بعد، باید ببینید که ایده‌ی مورد نظر تان تا چه حد قابلیت سودآوری دارد. چه اصلاحاتی برای درست انجام دادن کار باید اعمال کنید. مهم‌ترین عامل یک تشبث کارآفرینانه برای رسیدن به موفقیت، ارائه راه حلی برای مشکلات مشتریان است، یا پاسخ خلاقانه به نیازهای آن‌ها و یا ابتکار تولید یک کالا یا خدماتی که بازار به آن احتیاج دارد.

در مرحله سوم به دنبال همکار یا شرکای قابل اعتماد باشید. در همه تشبثات نوپا، همکاری نکتهٔ حایز اهمیت است. در حقیقت یکی از رموز موفقیت شرکت های چون اپل، میکروسافت، گوگل و اینتل همین همکاری است، اما قبل از انتخاب شریک کاری، مطمئن شوید که آن شخص با شما دیدگاه و چشم انداز مشترک دارد. بدون همکاری دو طرفه کسب و کار شما رشد نخواهد کرد.

یکی از قوانین هوشمندانهٔ شراکت تجاری، امضای قرارداد انحلال شراکت است. به این دلیل که اگر احیاناً همه چیز بر وفق مراد پیش نرفت راه خروجی منطقی و مناسبی باقی بماند.

مرحلهٔ دیگر اینکه، هر وقت از اول شروع نکنید، بلکه کسب و کار جدید را نیمه وقت آغاز کنید. آغاز و انجام هر کار را سنجیده و شروع بکار نمائید. پس از برداشتن قدم‌های فوق، گام بعدی شروع کار مورد نظرتان است. من همیشه بر اهمیت این نکته برای کارمندان تأکید می کنم. حقیقت این است که بسیاری از ما برای برپا کردن کسب و کار خود برنامه ریزی می‌کنیم ولی همه ی ما آمادگی برخواستن و راه افتادن یک‌باره را نداریم. پس منتظر چراغ سبز نمانید.

مرحله دیگر برنامه ریزی است. برای تحقق مفکوره تان باید بنشینید و برنامه‌ریزی کنید. اگر برای کارآفرینی، قرار است وام بگیرید یا سرمایه‌ی جذب کنید، لازم است که برنامه کسب و کار خود را منظم و منسجم در قالب طرح تدوین کنید. این برای روشن کردن اهداف و نحوه یا جریان‌ها به شما کمک می کند و پیشبرد کار تان حایز اهمیت است. جدایی از طرح کسب و کار، برای موارد دیگری که در این طرح ذکر نمی شود، از جمله موارد جزی، امور روزمره، قرارهای کاری، تماس با مشتریان و ... است که باید به آنها برنامه داشته باشید. کارآفرینی به خصوص در حوزه راه اندازی تشبثات نو پا به سرعت کوهی از وظایف و کارهایی که باید انجام شوند را بر شما خواهد گذاشت و بدون برنامه، پیگیری امور بسیار مشکل و شاید غیر ممکن خواهد بود.

تقسیم کار یکی از مراحل دیگر تشبثات است.

»

راه‌اندازی و پیگیری امور یک کسب و کار نوپا، میزان زیادی از وقت و انرژی شما را به خود اختصاص می‌دهد و نیازمند کار و تلاش بسیار است. قدم بعدی برای شروع کار، تخصیص بهینه‌ی زمان است.

چند ساعت از روز را به کار کردن بر روی کار شخصی خود اختصاص خواهید داد؟

آیا می‌خواهید کار تان را آخر هفته‌ها بگردانید؟

باید به این سوال ها پاسخ دهید. اگر می‌خواهید کسب و کارتان دوام داشته باشد، باید برای ساختنش زمان بگذارید. اینجا جایی است که شرکای شما وارد قضیه می‌شوند. اگر شریکی دارید وظایف را تقسیم کنید و دایم به خودتان یادآوری کنید که نسبت به موفقیت یا شکست هر تکلیف مسئولیت آن‌را بپذیرید.

ساختارکسب و کارتان مرحلهٔ دیگریست که باید در ابتداء به آن توجه کرد. در دنیای کارآفرینی، ساختار تشبثات که پیش می گیرید، بسیار چیزها را تعیین می کند. از نحوه محاسبه و پرداخت مالیات تا سطح مسئولیت قضایی و حتی نام تجاری کسب و کارتان به ساختاری که برای استارت اپ خود تعریف می کنید، ربط دارد. ممکن، انتخاب کنید که تنها مالک شرکت باشید یا ترجیح بدهید که شریک یا شرکای تجاری دیگری هم داشته باشید و زمانی هم به سراغ شرکت‌های سهامی یا بامسئولیت محدود بروید. با مراجعه به قانون تجارت کشوری که در آنجا کار را شروع می کنید در باره انواع شرکت‌ها و ساختارهای آن‌ها تحقیقات لازم را انجام دهید. البته امکان انتخاب یک ساختار اولیه و بعد انتخاب ساختاری بهتر هم وجود دارد، اما اینکار مستلزم اشراف بر قوانین است، زیرا اشتباهات حقوقی نتایج نامطلوبی را در پی خواهد داشت.

مرحله دیگر در تشبثات اینست که افسرده نشوید؛ مقاوم باشید. راه اندازی تشبثات نو پا مثل آب خوردن نیست، بلکه کار سخت و سنگین می طلبد، اما به یاد داشته باشید که هر چقدر مسیر، پر استرس و دشوار شد، تسلیم نشوید.

اگر احساس کردید که از نظر روحی تحت فشار و دچار اضطراب هستید، شرایط سخت و پراسترسی که کارآفرینانی هم‌چون لری پیج (Larry Page)، دیوید فولی (David Foli) و مایکل دل (Michael Dell) کارشان را در آن آغاز کردند، به یاد آورید.

از این آدم‌ها برای خودتان مُدل و الگو درست کنید. از اشتباهاتشان درس بگیرید و مطالبشان را بخوانید. این سریع‌ترین راه موفقیت و توسعه‌ی کسب و کار نوپای شماست. "اینکه کجا هستید مهم نیست، اینکه به "کجا می‌روید" تعیین کننده است."

سر انجام نتیجه می گیریم که راه اندازی تشبثات زمینهٔ رشد و اقتصاد کشور و در عین حال زمینه کار را برای شهروندان کشور فراهم می‌نماید. لذا لازم است که این فکر در تمام افراد خلاق و مبتکر تکافو شود و زمینه برای راه اندازی شرکت‌های کوچک فراهم شود تا از افکار خویش استفاده بهینه نمایند.▣

منابع و پی‌نوشت‌ها:

1. کتاب مردان ثروتمند.
2. ۱۲۰ قانون برایان تریسی.
3. سایت راه اندازی کسب و کار
4. مقاله تاسیس شرکت‌ها کوچک

# مسکن،
## یکی از نیاز های اصلی زنده‌گی

مسکن منحیث یکی از ضروریات مبرم بشری در هر برهه زمانی نزد خانواده ها مطرح بوده و حکومت ها در جوامع مختلف برای تأمین آن تلاش نموده اند، قسمیکه بیشتر کشورها تأمین مسکن را جزوی از برنامه ریزی های توسعه ای کشور شان قرار داده اند.

یکی از مهمترین روش ها جهت تأمین مسکن برای افراد کم درآمد در شهرها، پیوستن فعالیت‌های ساخت و ساز مسکن میان بخش‌های دولتی و خصوصی است. برنامه ریزی برای تهیه مسکن به افراد کم درآمد، یکی از موضوعاتی است که باید به آن توجه بیشر صورت گرفته و در این قسمت از تجارب کشورهای دیگر استفاده گردد.

علی‌الرغم تأکید دایمی بر اهمیت مسکن به عنوان نیاز اصلی و حق بنیادین، درصد قابل توجهی از خانواده های شهری قادر به تأمین آن نشده اند. این موضوع روز بروز پیچیده تر شده و شرایط زنده گی خانواده‌های شهری بیشتر بسوی بحرانی شدن به پیش می رود. بادرنظر داشت این موضوعات، هماهنگی سیاست های تأمین مسکن در کشور ما یک امر ضروری و از اهمیت بسزایی برخوردار است.

طبقات کم درآمد جامعه بخاطر فقدان درآمد و پس انداز، قادر به استفاده از اعتبارات و تسهیلات بانکی نمی باشند. سرمایه گذاری دولت بطور مستقیم در این بخش در امر تصمیم گیری، تولید مسکن و واگذاری آن به خانواده های کم درآمد با شرایط سهل، یکی از راه های است که به این معضل نقطۀ پایان می گذارد، در غیر آن محلات غیر رسمی و پیدایش نواحی مسکونی جدید در حاشیۀ شهر ها ظهور می نماید که باعث پیدایش ساخت و ساز های نا هنجار خواهد شد.

روی همین اصل، برای بدست آوردن مسکن و مقابله به محله های نا امن و جلوگیری از توسعۀ آنها، افزایش جذابیت زنده گی و مسکن ارزان قیمت در بخش مسکن به سرمایه گذاری های لازم نیاز است. در کشور ما که ارزش مالکیت مسکن به مراتب بالاتر از ارزش مالکیت مسکن در کشور های توسعه یافته بوده و حتی مالکیت مسکن از امور مربوط به تعلیم و تربیه، خدمات صحی و... با ارزش تر بوده که به همین علل،

»

مردم کم درآمد و متوسط الحال امکان خرید و مالکیت مسکن را ندارند.

مشکلات مرتبط بخش مسکن در کشور ما را توسعهٔ شهر نشینی، گرانی قیمت مواد ساختمانی، مصارف بلند تولید مواد ساختمانی، کمبود یا نبود خدمات زیر ساخت های اساسی در این بخش، افزایش قیمت زمین و روی آوردن تعداد عمدهٔ از خانواده های شهری به تصرف زمین‌های وسیع در حاشیهٔ شهر ها بخاطر ساختن خانه تشکیل میدهد.

در حال حاضر فقدان مسکن و بی سرپناهی یکی مشکلات اساسی مردم افغانستان محسوب میگردد، زیرا رشد سریع جمعیت، آرزوی شهرنشینی، افزایش فقیر نشینی در حاشیهٔ شهر ها، مهاجرت های داخلی، فقدان منابع مالی کافی، مشکلات مربوط به عرضه زمین، تأمین مواد ساختمانی و کمبود نیروی انسانی متخصص از مشکلات عمده در این زمینه محسوب می گردند.

علاوه بر اینکه سرمایه گذاری در بخش مسکن فرصت اشتغال زایی را در کشور ما فراهم می سازد، بلکه ساخت هر واحد مسکونی به زمین مربوطه، به مواد ساختمانی، سرمایه، تکنالوژی ساختمانی و نیروهای انسانی وابستگی دارد که چرخه های اقتصادی را به حرکت می آورد.

در شرایط کنونی، بسیاری از افراد و خانواده‌ها فاقد سرپناه بوده، که به شمول عودت کننده گان و بیجاشده گا ن در ویرانه ها، اماکن نامناسب، خیمه ها و یا خانه های کوچک بدون آب، برق و بدون سیستم فاضلاب زنده گی خود را به پیش می‌برند.

بخش مسکن از بخش های پیش رو در اقتصاد تمام کشورها است. توجه به آن علاوه بر تأثیرات ژرف اجتماعی ـ فرهنگی، از نظر اقتصادی نیز دارای اهمیت بوده و همانند چرخه‌های محرک رشد و توسعه کشور ما عمل می کند. افغانستان می تواند از این صنعت به عنوان چرخه محرکهٔ رشد و مولد اشتغال زایی استفاده نماید.

بخش مسکن می تواند با مدیریت خوب، سرمایه گذاری وافر و تولید مواد ساختمانی استندرد در داخل کشور، ما را از وابستگی در این عرصه نجات دهد. علاوه بر آن می تواند به رشد اقتصادی کشور کمک کرده و در شرایط بحرانی، رشد مثبت اقتصادی را به صورت پایدار تضمین نماید.

در افغانستان بخش مسکن توان جذب سرمایه گذاری را داشته و یک پروسهٔ اشتغال زا می باشد، بر اساس مطالعات انجام شده میتوان گفت که در بدل ساخت هر ۲۰۰ متر مربع ساختمان، ۴ شغل مستقیم و یک شغل غیر مستقیم ایجاد می گردد. مسکن برای افراد ماهر و غیر ماهر شغل ایجاد نموده، آنها را قادر می سازد تا پس انداز داشته و زنده گی خود را رونق بخشند.

در حال حاضر توزیع درآمد در جامعه افغانستان به شکلی نیست که مردم کم درآمد، توانمندی تأمین مسکن را داشته باشند. این افراد قدرت خرید خانه از طریق بازار آزاد را ندارند، بناءً لازم است تا مورد حمایت قرار گرفته و دولت با مداخله در این روند آنها را کمک کند.▣

عبدالحفیظ شاهین

منابع:

1. نگاهی به وضعیت مسکن در افغانستان / نویسنده محمد عظیم عظیمی www.bbc.com/.../afghanistan
2. رئیس طرح برنامه های منطقه ای وزارت امور شهر سازی / تاریخ نشر / ۲۳ / ۶/ ۱۳۹۲
3. www.aisa.org.af/ / نگاهی بر وضعیت سرمایه گذاری در افغانستان
4. www.virascince.com / مسکن قابل استطاعت – پایگاه علمی ویرا ساینس

پول افغانی نشانهٔ افتخار،
اقتدار و هویت ملی ماست!



# بانک

ماهنامهٔ د افغانستان بانک

سال یازدهم شماره ۱۳۰، حمل ۱۳۹۷


د افغانستان بانک



**ګرانو هیوادوالو! زمونږ د ګران هیواد پولي واحد، افغانۍ دي**